بسم الله الرحمن الرحيم

**غربي تمدن او چټلۍ يې!**

**(ژباړه)**

**خبر:**

په ۱۲/۱/۲۰۲۱ نېټه د فرانسې لوفيګارو ورځپاڼې يو راپور خپور کړ چې په کې راغلي دي: «د فرانسې سنا مجلس په اکثريت رايو، يو قانون تصويب کړ چې اوس ۱۳ کلن نجونې او هلکان د رضايت په صورت کې کولی شي جنسي اړيکې ټينګې کړي.

**تبصره:**

غربي تمدن انسان د هلاکت کندې ته غورځولی او منحط کړی يې دی. دا په داسې حال کې ده چې د دوی حاکمان په اسلام او اسلامي ارزښتونو بريد کوي، هغه ارزښتونه چې انسانان يې لوړو پوړيو ته رسولي او له بېلاريو يې ژغورلي دي. په غرب کې د نفس هوا، چې انسان بېلاريو ته رابولي، د حلالو او حرامو معيار ده. دغه راز د بې وزلو هېوادونو پانګه لوټول، اشغال او له هغوی سره تاوتريخوالی خپل حق بولي او د بشر حقونو ادعا هم کوي. په لومړۍ او دويمه نړيواله جګړه کې د لسګونو مليونو انسانانو وژنه، د دې تمدن له ناوړه لاسته راوړنو څخه ده، چې زنا پکې قانوني مشروعيت اخيستی. نه يوازې دا، بلکه د کوچنيو ماشومانو جنسي اړيکې هم د دوی تر منځ تصويب شوې، تر هغه چې د رضايت پر اساس د جنسي اړيکو حقوقي عمر ديارلس کلونو ته را ښکته شو. ان همجنس بازانو په ځينو هيوادونو کې مشري کړې، د آيرلينډ، سربيا او لوګزامبورګ اوسني ولسمشران همجنس بازان دي. له دې مخکې د بلجيم او آيسليند ولسمشران همجنسبازان وو. تېره ورځ د امريکا متحده ايالاتو د ترانسپورت نوي وزير په ښکاره ډول اعلان وکړ، چې هغه همجنسباز دی او خپل ملګری يې رسنيو ته ورښود!

دا نو څه ډول تمدن دی!؟ چې له جګړې، تباهي، جنايت، اشغال، کډوالۍ، ناروغۍ، زنا، همجنس بازۍ، د مخدره موادو قاچاق او ځان وژنې پرته بله لاسته راوړنه نه لري.

د غربي تمدن له واک ته رسېدو سره سم موږ له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې د له منځه تلو توان يې راکړي. په دغه تمدن کې پر پاکلمنۍ بريد وشو او د فساد لمن پراخه شوه او همدارنګه د ژوند معيارونه له منځه ولاړل او پردي شول. د لوط ع د قوم په څير چې د عفت په وړاندې وجنګېدل د لوط (ع) او پيروانو پر وړاندې يې وويل: دوی له خپلې سيمې وباسئ ځکه دوی هغه څوک دي چې عفت او پاک لمني غواړي. عاقلانو ته پکار ده، چې لاندې کړنو ته ورودانګي:

مسلمانان بايد د الله سبحانه وتعالی له شريعت سره سم عمل وکړي اوپه کلک هوډ سره خپل مسووليتونه تر

سره کړي. غیر مسلمانان، په ځانګړي توګه هغه څوک چې په اسلامي خاورو کې اوسیږي ، د اهل کتابو (یهودیان او عیسویان)په ګډون باید غربي تمدن، مشران او اجیران یې پریږدي ، او خپلو پیروانو او خلکو ته یې پایلې او ضررونه روښانه کړي.
موږ د الله سبحانه وتعالی شکر ادا کوو، چې د اسلام په برکت سره، یې انسان راویښ کړ او د کمال درجې ته یې ورساوه، چې هغه تلپاتې او ریښتینې خوښي ده.

یا الله! له موږ سره د اسلام په حاکمولو کې مرسته وکړې! موږ ته توان راکړې، چې باطل له منځه یوسو او هغه ژمنې ریښتیا کړې، چې تا موږ ته په ځمکه کې د خلیفه ګرځولو لپاره راکړې دي.

**لیکوال: شیخ دوکتور محمد ابراهیم**

**د حزب التحریر ولایه – لبنان د مطبوعاتي دفتر رییس**

**ژباړن: محمد فاتح**